مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

۲۰۲۶/۰۴/۲۲

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
(شپږ دیرشمه برخه)

### خزانګل ګل

تحصیلات ئـي په جرمني کي د ریاضیاتو او فزیک په څانګي کي کړي دي. په ۱۹۷۰ز کال کي د ښووني او روزني په برخي کي فارغ سو. د داؤود پر مهال په خوست کي ښوونکی وو. د تره کي د رژیم پر مهال زنداني سو. څو وخته وروسته په خوست کي له مجاهدینو سره یو ځای سو. ویل کېږي چي د فلسطین د آزادی د سازمان PLO په عراقي کمپ کي ئـي روزنه لیدلي ده.

### پوهاند ګل داد

له ۱۹۶۲ تر ۱۹۶۳ز کال پوري ئـي په هندوستان کي تحصیل وکړ. له خلقي غورځنګ سره په پټه یا مخفي توګه یو ځای سوی وو. د ننګرهار د دري په پرمختیایي پروژې کي ئـي کار کړی دئ. په ۱۹۷۳ز کال کي ښوونکی. د ۱۹۷۸ز کال د جولای په میاشت کي د بغلان والي. په ۱۹۸۰ز کال کي د لوړو او مسلکي تحصیلاتو وزیر چي د ۱۹۸۲ز کال د سپتمبر تر میاشتي پوري په همدي مقام پاتي سو. په ۱۹۷۹ز کال کي د مرکزي کمیټي غړی او په ۱۹۸۰ز کال کي د انقلابي شورى غړی. د ۱۹۸۵ز کال د دسمبر تر میاشتي پوري د سیاسي بیرو غړی. مورنی ژبه ئـي پښتو ده.

### ګل حسین

په ۱۹۸۵ز کال کي د (افسوتر) AFSOTR [1] حوزوي ګوندي منشي.

### ډاکټر عبدالودود ګلستاني

په فراه کي زېږېدلی دئ. د کرني په لیسي کي ئـي زده کړي کړي دي. خپل لیسانس ئـي د کابل پوهنتون د کرني له پوهنځي څخه تر لاسه کړی او دکتورا ئـي د امریکا په متحده ایالاتو کي اخیستي ده. د کابل پوهنتون د وترنری د پوهنځي پوهاند او وروسته د همدغـهٔ پوهنځي رئـیس.

**ګل پاچا** : وګورئ : ګل پاچا الفت

[1] - Afghan – Soviet Transport Co


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

## مير احمد گربز

په ۱۹۴۵ز کال کې د پکتيا ولايت په گربز کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۶۵ز کال کې د رحمن بابا له ليسې فارغ سوی دئ. په ۱۹۷۰ز کال کې د کابل پوهنتون د ادبياتو له پوهنځي څخه فارغ سو او د يوهٔ کال لپاره د پکتيا په ليسې کې د ښوونکي په توگه مقرر سو او ورپسې د زيروک په منځني ښوونځي کې ښوونکی سو. په ۱۹۷۲ز کال کې د هرات د ښوونې او روزنې د رياست غړی. له خلقي غورځنگ [2] سره په پټه يو ځای سو. په ۱۹۷۶ز کال کې په دارالمعلمينو کې استاد او د راډيو د ښوونې او روزنې د څانگې غړی. په ۱۹۷۸ز کال کې د دارالمعلمينو عمومي مدير. د ۱۹۷۹ز کال د جولای په مياشت کې د بلغاريې سفير. د حفيظ الله امين له پرځېدلو وروسته ئې خپل کاري مقام له لاسه ورکړ. وادهٔ ئې کړی دئ. بچيان نـهٔ لري. په انگليسي خبرې کوي.

## ډاکټر اسدالله حبيب

د حبيب الله زوی، په ۱۹۴۱ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. منځنی ښوونځی ئې په مينمې کې پای ته رسولی دئ. د کابل له دارالمعلمينو او په ۱۹۶۴ز کال کې د کابل پوهنتون د ادبياتو له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. همدا شان د امريکا په متحده ايالاتو کې ئې هم زده کړه کړې ده. د کابل پوهنتون مدرس. شوروي اتحاد ته د تحصيلاتو لپار لاړ او په ۱۹۶۹ز کال کې د ادبياتو د دکتورا په اخيستلو فارغ سو؛ د ډاکټری د اخيستلو رساله ئې د صوفي شاعر، ميرزا عبدالقادر بيدل په هکله وه. د کابل پوهنتون د ښوونې او روزنې د ديپارتمنت مدرس او مدير. په ۱۹۸۰ز کال کې د شاعرانو او ليکوالانو د اتحاديې د مرکزي شورى رئيس. په ۱۹۸۲ز کال کې د کابل پوهنتون رئيس. آثار ئې : سپيد اندام، سه مزدور او دهٔ د خپلو لنډو داستانونو غوره سوې ټولگه چې په ۱۹۷۴ز کال کې په شوروي اتحاد کې په روسي ژبه راووتله. مورنی ژبه ئې وزبيکي ده؛ په روسي او لږلږ په انگليسي هم خبرې کوي.

## ډاکټر حبيب الله حبيب

د (کندهاري) عبدالله زوی په ۱۹۳۵ز کال کې زېږېدلی دئ. ليسانس ئې په اقتصاد کې د کابل له پوهنتون څخه اخيستی دئ. د لبنان په بيروت کې په امريکايي پوهنتون کې ئې د خپلې ماستری د اخيستلو لپاره کار وکړ؛ خپله ماستري ئې د (تينيسي، د نش ويل، د وندر بيلت) [3] له پوهنتون څخه په اقتصاد کې واخيستله؛ او خپله دکتورا ئې په سياسي علومو کې د « فيليپين د مانيلا د سانتو توماس» [4] له پوهنتون څخه په ۱۹۷۶ز کل کې او همدا رنگه ئې په اقتصاد کې د دکتورا د ترلاسه کولو لپاره کار وکړ. د پلان د وزارت د ټولنيزو خدماتو مدير. د پلان په وزارت کې د پلان جوړولو، تطبيق او کنترول عمومي مدير، او له ۱۹۶۸ تر ۱۹۷۱ز کال پورې د پلان په وزارت کې د اقتصاد او تخنيکي همکاری رئيس. په بنکاک کې د ECAFE کارمند. له ۱۹۷۳ز کال راوروسته بيرته افغانستان ته راستون نـهٔ سو. له ۱۹۷۸ز کال راوروسته د فيليپين د مانيلا د سانتو توماس په پوهنتون کې د اقتصاد او سياسي علومو مدرس. په ۱۹۸۲ز کال کې ئې د آسيا د پرمختيايي بانک د لس کلن خدمت جايزه وگټله. مورنی ژبه ئې پښتو ده.

[2] - khalqi movement
[3] -Vanderbilt University, Nashville Tennessee
[4] -University of Santo Tomas, Manila Philippines


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولـئ

## رقیه حبیب

پخوانی نوم ئـې رقیه ابوبکر وو. د سید حبیب لور ،د سید قاسم رشتیا او د میر محـمد صدیق فرهنگ خور، په ۱۹۱۷ز کال کې زېږېـدلې ده. په ۱۹۵۰ز کال کې ئـې خپل لیسانس د کابل له پوهنتون څخه د مېـرمنو د پرمختیا په برخې کې واخیست. له ۱۹۴۱ تر ۱۹۴۹ز کال پورې د زرغونې د لیسې ښوونکې او وروسته د همدې لیسې مدیره سوه. د ښوونې او روزنې او د نشراتو عمومي مدیره. د مېـرمن د مجلې محرره، له ۱۹۴۹ تر ۱۹۶۲ز کال پورې د ښځو د سوکالی په ټولنه/ انجمن رفاه زنان کې وه. له ۱۹۶۲ تر ۱۹۶۳ز کال پورې د افغان تأریخي ټولنې غړې. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۴ز کال پورې د افغان سرې میاشتې د میاشتـنې مجلې، د سرې میاشتې ږغ سرمحرره او د نشراتو مدیره. د ۱۹۶۴ز کال د افغان اساسي قانون د غونډې غړې. د ۱۹۶۴ز کال د لویې جرگې غړې. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۶۹ز کال پورې د کابل له لومړی ناحیې څخه د ولسي جرگې ټاکل سوې غړې. په ۱۹۷۱ز کال کې د ملي سواد د پروگرام رئـیسه. د داؤود د ۱۹۷۳ز کال له کودتا وروسته برطرفه سوه. د لنډو داستانونو ټولگه ئـې چې ادبي او د ټولنیز ژوند تومنه لري خپره سوې او هم ئـې اشعار خپارهٔ سوي دي. شپږ ادبي جوایز ئـې اخیستي دي. په ډېرو کنفرانسونو کې ئـې د افغان مېـرمنو استازیتوب کړی دئ. د ۱۹۸۰ز کال د مارچ په میاشت کې له افغانستانه ووتله. مورنی ژبه ئـې دري دي. د امریکا په متحده ایالاتو کې ژوند کوي.

## عبدالحی حبیـبـي

،د کاکړو له قبیلې څخه د مشهور فقیه حبیب الله کندهاري له اعقابو څخه چې امیر عبدالرحمن خان په ۱۸۸۰ز کال کې وواژهٔ د عبدالحق آخوند زاده زوی، په ۱۹۱۰ز کال کې په کندهار کې زېږېدلی دئ. لومړنی زده کړې ئـې په کندهار کې تر سره کړې او شخصي تحصیلات ئـې کړي دي. په ۱۹۲۷ز کال کې د کندهار په لومړنی ښوونځي کې ښوونکی وو. په ۱۹۲۸ز کال کې د طلوع افغان مرستیال رئـیس. په ۱۹۳۱ز کال کې ئـې محرر وو. په ۱۹۴۰ز کال کې د پـښـتو اکاډیمی رئـیس او د مطبوعاتو د ریاست مرستیال رئـیس. د معارف د وزارت سلاکار او په ۱۹۴۱ز کال کې د ادبیاتو د پوهنځي رئـیس. د پښتو د ـلرغونو ـ شعرونو متنازع ټولگه «پټه خزانه» ئـې چاپ کړه چې اصالت ئـې په لویدیځ کې د ژب پوهانو له پلوه نـهٔ دئ تصدیق سوی. په ۱۹۴۶ز کال کې د کندهار د معارف د ریاست رئـیس. په ۱۹۴۷ز کال کې د چمن د سوداگرو وکیل/ استازی. په ۱۹۴۸ز کال کې په ولسي جرگې کې د کندهار استازی. د شاه محـمود د حکومت مخالف چې په ۱۹۵۱ز کال کې پاکستان ته لاړ او د ـجمهوریت ـ د لومړنی میاشتـنې خپرونې بنسټ ئـې کېښـېښود. په ۱۹۶۱ز کال کې افغانستان ته راستون سو. د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي استاد، او د «تأریخ افغانستان بعد از اسلام» د تأریخي اثر په گډون د گڼ شمېـر تأریخي آثارو مؤلف. په ۱۹۶۶ز کال کې د افغان تأریخي ټولنې/ انجمن تأریخ افغانستان رئـیس. په ۱۹۶۶ز کال کې ئـې د پوهاندی رتبې ته ارتقاء وکړه. له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۸ز کال او له ۱۹۸۰ تر ۱۹۸۴ز کال پورې د اطلاعاتو او کلتور د وزارت سلاکار. د علومو اکاډیمی غړی. په ۱۹۸۰ز کال کې ئـې د پلار وطنې د جبهې/ جبهـهٔ ملي پدر وطن د غړیتوب وړاندیز رد کړ. وروستـنی چاپي اثر ئـې په ۱۹۸۴ز کال کې په کابل کې وو چې د امیر حبیب الله خان پر مهال په افغانستان کې د مشروطې د غورځنگ په هکله وو. په ۱۹۸۴ز کال کې وفات سو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

## شفيقه حبيبي

د ډاکتر محمد عمر لور. د محمود حبيبي دريمه مېرمن. له ۱۹۶۰ز کال راهيسي د راډيو تلويزيون ويانده/ نطاقه.

## حبيب الله کلکاني

په کوهدامن کې سرای خواجه ته نېږدې د کلکانو د کلي يو تاجيک دئ. د امين الله زوی د ۱۸۹۰ز کال په شاو خواوو کې زېږېدلی دئ؛ پلار ئې امين الله يو سقاو وو نو ځکه د سقاو د زوی يا بچۀ سقاو په نوم هم ډېر يادېږي. ويل کېږي مخکې له دې چې په ۱۹۱۹ز کال کې په کابل کې د جمال پاشا د کنډک په غړيتوب کې شامل سي، بېلابېلې نوکرۍ ئې کړې وې. په ۱۹۲۴ز کال کې د منګلو له بغاوت سره د همدردۍ په پار ئې دنده خوشي کړه. څو موده وروسته پېښور، هندوستان، ته وتښتېد. په ۱۹۲۸ز کال کې د ننګرهار د بغاوت پر مهال ئې اعليحضرت امان الله ته د خپل خدمت وړانديز وکړ خو وروسته وتښتېد او د دسمبر په ۱۴ نېټې ئې د اعليحضرت امان الله پر ضد د کوهستاني ځواک مشري وکړه. په لومړيو کې په شا وتمبول سو؛ حبيب الله خپلې هڅې بيا له سره ونيولې او د ۱۹۲۹ز کال د جنورۍ د مياشتې په ۱۸ نېټې د اعليحضرت عنايت الله له تسليم کېدلو وروسته د افغانستان د امير په توګه اعلان سو. د غازي امير حبيب الله خان، خادم دين رسول الله لقب ئې خپل کړ او د ۱۹۲۹ز کال د اکتوبر تر مياشتې پورې ئې د افغانستان پر يو شمېر برخو خپله واکمني خپره کړه خو په همدې مياشت کې د شاه ولي خان له پلوه له ارګ څخه وشړل سو. د ۱۹۲۹ز کال د نوامبر د مياشتې په لومړۍ نېټې تسليم او اعدام سو. د سيد حسين په نوم د چاريکارو يو شتمن ځمکوال د حبيب الله کلکاني د دفاع وزير، عطاء الحق د باندنيو چارو وزير او ورور ئې شيرجان د دربار وزير سو.

د حبيب الله کلکاني د نيکونو او اجدادو په هکله معلومات لا تر اوسه روښانه نۀ دي خو خپلو کوهستاني ملاتړو ته رابن هود وو او نورو ته يو لوټمار او غل وو. د هغۀ په غلطه ادعا سوي ژوند ليک (آتو بايوګرافي) [5] کې چې (زما ژوند : له داړه مارۍ تر پادشاهۍ) [6] نومېږي (چاپ لندن : ۱۹۳۶ز کال) له دۀ څخه د يوۀ شوکمار او قطاع الطريق تصوير وړاندې کوي چې د کورنۍ جګړې په ګډوډۍ کې واکمني قبضه کوي. په دې وروستيو کې د خليل الله خليلي له پلوه د حبيب الاسلام په نوم ليکل سوی کتاب له حبيب الله کلکاني څخه يو مجاهد او د يوۀ کافر پادشاه پر وړاندې د مقدسې جګړې جنګيالی جوړوي. حبيب الاسلام هڅه کوي د کلکاني واکمنۍ ته په دې ډول د مشروعيت جامه ور په تن کړي چې واکمني ئې ددۀ په ډول له نورو واکمنو سره په يوۀ تصوير کې وړاندې کړي (لکه عثماني سلطان بايزيد، مغولي سلطان اورنګ زيب او (شهزاده هنري) [7] چې له ګنو پېښو وروسته د انګلستان پادشاه کېږي) دغه سلاطين ټول له يوې مخې قاتلين، قماربازان او د لويو لارو شوکماران ول.

### نور بيا

**قدرت الله حداد**

د سيد احمد فرهاد زوی او د غلام محمد فرهاد ناسکه ورور، په ۱۹۳۳ز کال کې...

### قدرمنو لوستونکو! د ښاغلی رحمت آريا د آرشيف: لينک

[5] -autobiography
[6] -My life : From Brigand to King
[7] - Prince Henry


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ